څوک چې د الله تعالى د کلمې د لوړوالي لپاره جنګيږي هغه د الله په لار کې دی

له ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د يو سړي په اړه پوښتنه وشوه چې د زړورتيا له مخې جنګيږي، او د تعصب له مخې جنګيږي، او د ځان ښودنې له امله جنګيږي، نو له دوی څخه کوم يو د الله په لار کې دی؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې د الله تعالى د کلمې د لوړوالي لپاره جنګيږي هغه د الله په لار کې دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د جنګيالیو د مختلفو نيتونو په اړه پوښتنه وشوه چې يو څوک د زړورتيا له امله جنګيږي، او يا د تعصب او ملاتړ له امله او يا لدې امله چې په خلکو خپل عزت ومومي او داسې نور، نو کوم يو د الله په لار کې دی؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هغه څوک د الله په لار کې جنګيالی دی چې له جګړې څخه يې موخه دا وي چې د الله کلمه لوړه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2969